# حافظ ابرو

د افغانستان د تاريخ د اسلامي عصر په مختلفو دورو کښي ډير مؤلفان، پوهان او د مؤرخان تېرسويدي چي هر يو ئې پرخپل ځاي د پېژندني او څېړني وړ دئ. اوس زه د هرات يو خورا پوه او محقق ليکوال او مؤرخ درپېژنم، چي تر اوسه ئې علمي آثار نه دي چاپ سوي نو ځکه دی لږ پېژندل سويدئ.

دا سړی شهاب الدين عبدالله لطف الله بن عبدالرشيد نوميږي، چې په حافظ ابرو ځکه مشهور وُ، چي دوې سره نښتي خوشنمايه ورځي ئې درلودې، دده کورنۍ يوه خراساني کولمه وه چي د ۷۶۳ ه په حدودو کښي دهرات په ښار کښي زېږېدلی او په ۸۳۴ هـ وفات سويدی.

حافظ ابرو دخپل وخت عالم او ليکوال او مؤرخ او د قرآن حافظ وُ، دده عمر دامير تيمور او دده دزامنو په دربار کښي تېر سوی اوپه ټولو سفرو کښي له هندوستانه تر استنبوله د امير تېمور سره ملګری وُ اوپه

۸۰۳ ه د حلب او دمشق په فتحه کښي هم ورسر وُ، کله چي امیر تېمور مړ سو، نو دی د شاهرخ په دربار کښي وُ او په ۸۱۹ ه ئې خپل د تاریخ کتاب د شاهرخ حضور ته وړاندی کی نو د ده ډېر قدر وسو او په سفر اوحضر کښي به په دربار کښي حاضر وُ، او دغه پادشاه دی تشویق کی چي نور کتابونه ولیکي.

حافظ ابرو پخپلو سفرو کښي دآسیایي سیمو په جغرافیا بلد سو، او د تاریخ لیکلو چم ئې زده کئ، او ځکه چي د پادشاهانو په حضور کښي وُ نو ټول سیاسي وقایع د ده تر نظر تېرېدل، او یا به ئې له موثقو خلکو څخه اورېدل نو دده لیکني ټولي پر حقیقي واقعو باندي بناء دي او خطا لږ لري، د ده ډېر داسي کتابونه هم لاس ته ورغلي وو، چي اوس هغه نسته نو دی عادت لري چي د هر فصل په سر کي د هغو کتابو نومونه واخلي، چي د ده تر استفادې لاندي وه.

په ۸۱۷ ه کال یو د عربي جغرافیا کتاب د شاهرخ حضورته راوړل سو، پادشاه حافظ ابرو ته امر وکی چي په پارسي ژبه یو بشپړ د جغرافیا کتاب وکاږي، حافظ ابرو ډېر د جغرافیا عربي او پارسي کتابونه سره راټول کړل او ځکه چي پخپله ئې هم د ماور النهر تر زابل او کابل او ملتان اوسند او دهلي او بیا غرباً تر روم اوشام او گرجستاننه پوري ټول ممالك لیدلي وُ، نو ده په ۸۲۰ ه د شاهرخ په امر د خپلي جغرافیې لیکنه شروع کړه او په ۸۲۳ ه ئې له تالیفه فارغ سو، چي متاسفانه ددې کتاب نسخه نده چاپ سوې، مگر د دنیا په لویو کتابخانو کښي ئې شپږقلمي نسخې سته. د حافظ ابرو په جغرافیا کښي لومړی ټوك د خراسان ممالك لکه: عرب، روم، فارس، شام، کرمان، عراق او د دوي دشاهانو احوال بیانوي، او په دې ټوك کښي مخصوصاً هغه برخه زموږ د غور اوتحقیق وړ ده چي په جنوبي ایران کښي د اوغانیانو احوال او د

دوي پادشاهان ښئي، خو تراوسه دا نه ده معلومه چي دغه اوغانيان څوک وو؟ ولي اوغان بلل کېده؟ که دوي د فارس د المظفر معاصر خلك وه نو بيا په ۵۰۰ وروستيو کلو کښي څه سول؟ د فارس اکثر مؤرخان د دوي حملې او جنګونه په کرمان او فارس او جنوبي ايران کي بيانوي. دکتاب ډيره مهمه برخه چي زموږ لپاره به خورا مفيده وي دوهم ټوک دی چي په هغه کښي د خراسان جغرافيا په تفصيل سره ذکر سوېده، او مخصوصاً دهرات او لقوابو بيان ئې ډېر ګټور دئ، ځکه چي حافظ ابرو پخپله هم د دې ځاي سړی دئ، او د خراسان د شاهانو احوال هم ليکي، او ځيني داسي وقايع پکښي بيانيږي چي په نورو کتابو کښي نسته او دا هغه حوادث دي چي د شاهرخ دربار ته به ئې رسمي راپورونه راتلل، او د حافظ ابرو تر نظر به تېرېدل. نو ځکه د ده کتاب د افغانستان د تاريخ د اسلامي دورې لپاره يو خورا معتمد مدرک کڼل کېدايسي او بايد حتماً د افغاني پوهانو په همت ترتيب او تحشيه او پر نوي انتقادي ډول باندي برابر چاپ سي. او زموږ د هرات د يوه دانشمند مؤلف دغه مغتنم اثر ژوندی سي.

د حافظ ابرو بل مهم کتاب د ده عمومي تاريخ دئ، چي د شهزاده بايسقر ميرزا شاهرخ د هنرمند زوي په امر په څلورو جلدو کښي ليکل سويدئ او مجمع التواريخ سلطانيه نوميږي.

اول ټول : د عربو او عجمو احوال چي شاهان، انبياء، اوليا او د تيرو ملتو مشاهير له آدمه تر خپله وخته پوري ښئي.

دوهم ټوک : دحضرت رسول (ص) او خلفاء تاريخ دعباسيانو تر آخره پوري.

دريم ټوک : د خراسان او د فارس د پادشاهانو احوال له صفاريانو څخه بيا د چنګيز خان تر عصره پوري. چي په دې برخه کښي هم د

صفاريانو، سامانيانو، غزنويانو، سلجوقيانو، خوارزمشاهيانو برخي زموږ د وطن په تاريخ پوري اړه لري، او خاص بيا هغه برخه د غور وړ ده چي د غوريانو او خلجيانو پادشاهانو احوال ليکي دا جلد د ۷۳۶ هـ کال پر احوال باندي ختميږي.

څلورم ټوک : دا جلد چي زبده التواريخ بايسنقري نوميږي هم دافغانستان په تاريخ کښي داهميت وړ دی، ځکه چي د ۷۳۶ هـ څخه بيا تر ۸۳۰ هـ پوري د ۹۲ کالو وقايع بيانوي، او دهرات دلوي پادشاه شاهرخ پر احوال باندي ختميږي.

د امير تيمور فتوحات په افغانستان او خراسان کښي او د شاهرخ د دورې حوادث په تفصيل په زبده التواريخ کښي بيان سويدي چي ټول زموږ د تاريخ مهم او د لوستلو وړ وقايع دي دا کتاب د هر کال وقايع ضبطوي او دا ځکه مهم ګڼل کيږي چي د شاهرخ دوره د خراسان د لوي سلطنت يوه درخشانه او ځلانده دوره ده او د خراسان سلطنت پايتخت هرات دئ او افغاني رجال او پوهان او هنرمندان اوسياست او اداري خاوندان د ايشيا ددغي برخي په حوادثو کښي غښتلی لاس لري، او حافظ ابرو هم خپل ليدلي او کتلي واقعې ليکي، نو که څوک وغواړي چي تر امير تيمور راوروسته د خراسان تاريخ وليکي يا د دې سيمي فرهنګي او سياسي او اقتصادي حال معلوم کي زبده التواريخ به ئې مهم او ګټور د معلوماتو منبع وي.

حافظ ابرو د تاريخ ليکلو په لحاظ د قديم مکتب يو سړی او درباري مؤرخ دئ، ټول ليدلي اوکتلي وقايع په دې نظر ليکي چي خپل روزونکی باداران خوښ وساتي مګر دده جغرافيه او مجمع التواريخ دواړه د تاريخ د محققانو لپاره ډير داسي کار آمد او مغتنم مواد لري چي دغه کتابونه د تاريخي مدارکو په لړ کښي اوله درجه مومي، اوبايد

حتماً چاپ اونشر سي. د شاهرخ او د ده د اولادو زمان د هرات او خراسان د هنراو تاریخ لیکلو د رسانس زمانه ده، شاهرخ او دده شهزاده ګان علم پالونکي او هنر روزونکی خلك وو، په همدغه دوره کښي د هرات د هنر نوی ژوندون شروع سو، او داسي هنري آثار را پیدا سول، چي د دنیا د هنر په تاریخ کښي ساري نه لري.

د تاریخ لیکلو باب کښي هم دغه دوره دیادولو وړ ده، مطلع سعدین، روضه الصفاء، حبیب السیر او ډیر نور تاریخي کتابونه د هرات پوهانو ولیکل چي حافظ ابرو ددوي په سر کښي درېږي.

زموږ د وطن علمي ذخیرې هم لکه نور ملي میراثونه تاراج سویدي، تر دې حده چي اوس موږ په هرات او خپل وطن کښي د حافظ ابرو دکتابو یوه نسخه هم نه لرو، مګر دا ویلاي سو چي دلته لکه شاهرخ غوندي علم پروره پادشاه او شهزاده بایسنقر غوندي پوهان او هنر پالونکی شهزاده ګان وو، چي دوی حافظ ابرو او خاند میر او میرخواند او جامي او عبدالرزاق غوندي عالمان او بهزاد غوندي هنرمندان وروزل، او پخپله دغه بایسنقر شهزاده ماهر خطاط او هنر مند وٶ، چي تراوسه ئې خطونه د هرات پر ځینو تاریخي بناوو باندي لیدل کیږي.

حافظ ابرو هم د هرات د تاریخي ښار یو مؤرخ او لیکوال او تکړه سړی دئ چي باید هیوادوال د ده شخصیت او آثار وپېژني، او داسي ښکاري چي د هرات دغه لوي مؤرخ او پوه سړي تر ۸۳۰ هـ پوري د خپلو آثارو په لیکنه مشغول وٶ، وروسته نو ده درې کاله په راحت تېر کړی او تر ۸۳۴ ه کاله پوری چي تر دنیا تېر سو بل اثر ئې نه دئ پېژندل سوي ، او د عمر ۷۰ کاله ئې تېر کړیدي. د حافظ ابرو یو کتاب ذیل جامع التواریخ رشیدي په ۲۸۰ مخه کښي په ۱۳۱۷ ش کال چاپ

سويدئ چي له ۶۸۸ ه کاله تر ۷۹۵ ه پوري وقايع بيانوي. او دغه کتاب هم د افغانستان د تاريخ يوه برخه ده.(۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۵۳ کال، (۵) گنه، مخ ۱ ـ ۵.